هفته نامه **معارف** اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۳۲) ماه ربیع الاول ۱۴۴۸ هـ ق. مطابق ماه سنبله ۱۴۰۵ هـ. ش


**تعلیم و تربیه سالم اولاد ملک نه تنها مسئولیت بلکی مکلفیت است**

# د پوهنې وزیر د ښوونې او روزنې وضعیت ارزونې په موخه زابل ولایت ته سفر وکړ

د پوهنې وزیر محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا د رسمي سفر په ترڅ کې زابل ولایت ته لاړ او هلته یې د یاد ولایت له پوهنې رئیس محترم الحاج عبدالرحمن حمیدي، یو شمېر مسئولینو او کارکوونکو سره په لیدنه کې د ښوونیز بهیر لا ښه والي اړوند پر بېلابېلو موضوعاتو هر اړخیزې خبرې وکړې.

په دې لیدنه کې د زابل ولایت د پوهنې رئیس د اړوند ریاست د فعالیتونو، لاسته راوړنو او شته ستونزو په اړه د پوهنې محترم وزیر ته معلومات وړاندې کړل.

وروسته د پوهنې محترم وزیر په خپلو خبرو کې د یاد ولایت د پوهنې له کارکوونکو او مسئولینو وغوښتل چې د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکم له مخې د خپلو مشرانو د لارښوونو بشپړ اطاعت وکړي او خپلې دندې د اخلاص، متقابل درناوي او مسئولیت منلو په فضا کې په ښه توګه ترسره کړي.



## معرفی روئسای جدید ریاست‌های تحقیقات علمی و تدارکات وزارت معارف



بر اساس پیشنهاد وزارت معارف و منظوری مقام عالی ریاست‌الوزراء محترم مولوی عبدالوکیل مدنی رئیس پیشین تدارکات این وزارت به عنوان رئیس جدید ریاست تحقیقات علمی و محترم محمد عثمان حریت، رئیس پیشین تحقیقات علمی، به عنوان رئیس جدید ریاست تدارکات تعیین و در محافل جداگانه از سوی محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق معین تضمین کیفیت این وزارت به کارمندان ریاست های متذکره معرفی و رسما به کار آغاز کردند.

معین محترم تضمین کیفیت با قدردانی از...

ص۲

## ترمیم ۴۹ باب مکتب در ولایت لوگر

ساختمان‌های ۴۹ باب مکتب درمرکز و ولسوالی‌های ولایت لوگر به هزینه بیش از ۳۶ میلیون افغانی با حمایت مالی یک نهاد همکار ترمیم و بازسازی شده است که ترمیم صنف‌ها، دیوارهای احاطوی، مبرزها، نصب سیستم‌های برق خورشیدی و سایر ملحقات ضروری شامل آن می باشند.

به گفته مسئولان ریاست معارف آن ولایت، با تکمیل امور بازسازی مکاتب مذکور، شرایط بهتر آموزش برای ده ها هزار تن شاگرد فراهم شده است.



## د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست اوونیز راپور

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د خپلو دیني، روزنیزو، اخلاقي او څارنیزو فعالیتونو د لا پیاوړتیا او د ښوونیزو او اداري چارو د سالم تنظیم په موخه د تېرې اوونۍ په ترڅ کې یو شمېر مهم او اغېزمن فعالیتونه ترسره کړل.

د یاد ریاست څارنیزو ټیمونو د کابل ښار په ۶۵ بابه امارتي او خصوصي تعلیمي مرکزونو کې د تدریسي بهیر هر اړخیزه څارنه ترسره کړه.

د څارنې پر مهال د ښوونیز نصاب د سم او پر وخت تطبیق د نظم او ډسپلین رعایتولو، د ښوونیز چاپېریال وضعیت، د ښوونکو او زده‌کوونکو اخلاقي چلند، د سیرت او صورت اړوند موارد او د تعلیمي بهیر د کیفیت لوړېدل او نور اړخونه وارزول شول.

د څارنې په پایله کې د موجودو نیمګړتیاوو د اصلاح او د چارو د لا ښه والي په موخه د اړوندو ادارو مسئولینو، ښوونکو او کارکوونکو ته لازمې لارښوونې او سپارښتنې وشوې، ترڅو د ښوونیز بهیر ترڅنګ د زده‌کوونکو د دیني، اخلاقي او ټولنیز شخصیت په روزنه کې هم لا زیات پام وشي.

همدارنګه، په تېره اوونۍ کې د کابل، هرات، ننګرهار، هلمند، فراه، لوګر او کاپیسا ولایتونو د پوهنې ریاستونو د دعوت او ارشاد مسئولینو له لوري د ولسوالیو په کچه له امارتي او خصوصي ښوونځیو او نورو ښوونیزو مرکزونو څخه د تدریسي بهیر څارنه ترسره شوه.

د دغو څارنو اساسي موخه د سالم، منظم خوندي او اغېزمن ښوونیز چاپېریال رامنځته کول، د اسلامي او اخلاقي ارزښتونو پیاوړتیا، د ښوونکو او زده‌کوونکو ترمنځ د اسلامي او انساني اخلاقو د لا ښه مراعاتولو زمینه برابرول او د تعلیمي چارو لا ښه تنظیم لپاره لازمې لارښوونې وړاندې کول دي.

په ورته مهال، د پوهنې وزارت د مرکزي هستې کارکوونکو ته د دعوت او ارشاد اړوند دیني او روزنیزو درسونو لړۍ هم دوام درلود. په دغو درسونو کې د اسلامي ارزښتونو، ښو اخلاقو، اداري مسوولیت‌پالنې، د اسلامي لارښوونو د مراعاتولو او په کاري چاپېریال کې د غوره چلند پر اهمیت ټینګار وشو.

سربېره پر دې، د مرکزي هستې د کارکوونکو د سیرت او صورت ارزونه هم ترسره شوه، تر څو د اداري چاپېریال د اسلامي اصولو، شرعي لارښوونو او ټاکل شویو مقرراتو د رعایتولو کچه وارزول شي او د اړتیا...

۲مخ

## دکابل ښار د دیني مدارسو ممتاز طلاب وستایل شول

دکابل ښار پوهنې ریاست له لوري د دیني مدارسو طلاب چې د سیرت النبيﷺ سیالۍ په پایله کې لوړې نمرې تر لاسه کړې وې د یوې غونډې په ترڅ کې وستایل شول.

په همدې مناسبت جوړې شوې غونډه کې د کابل ښار پوهنې ریاست رئیس محترم مولوي حسیب‌الله صاحبزاده، د ریاست د بېلابېلو آمریتونو مسئولینو، د دیني مدارسو عمومي رئیس محترم مفتي محمد یوسف ثاقب، د ساینس مرکز رئیس محترم عبدالوکیل الهام، د شپاړس ګونو ښوونیزو حوزو آمریتونو مسئولینو، د مرکزي هستې مدیرانو، ممتازو زده‌کوونکو، د هغوی د کورنیو غړو او یو شمېر علماءکرامو ګډون کړی و.

په دې غونډه کې دکابل ښار پوهنې رئیس محترم مولوي حسیب الله صاحبزاده د رسول الله صلی‌الله‌علیه وسلم د مبارک سیرت او اخلاقو په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې او د خپلو خبرو په یوه برخه کې یې وویل: د نړۍ د انسانانو لپاره د حضرت محمد صلی‌الله‌علیه‌وسلم سیرت او اخلاق د هدایت، رڼا او نېکمرغۍ ستره بېلګه ده. هغه پر زده‌کوونکو غږ وکړ چې د علم تر څنګ د رسول الله صلی‌الله‌علیه وسلم له مبارک سیرت، اخلاقو او ښو لارښوونو څخه پیروي وکړي او خپل علم د ټولنې او ملک د پرمختګ لپاره وکاروي.

وروسته د دیني مدارسو عمومي رئیس محترم مفتي محمد یوسف ثاقب وینا وکړه او د علم او زده‌کړې پر ارزښت، د دیني علومو د زده‌کوونکو پر مسئولیتونو او د ممتازو...

۲مخ




در این شماره


۲مخ د کتاب له پاڼو تر روښانه راتلونکې پورې

۳مخ د دعوت تاریخ او موخې

ص ۳ ندایی که حضرت تمیم داری رضی‌الله‌عنه را به اسلام فراخواند

سرليکنه

## د کتاب له پاڼو تر روښانه راتلونکي پورې

بسم‌الله الرحمن الرحيم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلامُ عَلَى سَيِّدِالمُرسَلِينَ وَ عَلَى آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

د انسان د ژوند په اوږده سفر کې ډېر کسان راځي او ځي؛ ځيني د خوښۍ په شېبو کې ملګرتيا کوي، ځيني د ستونزو پر مهال لاس نيسي او ځيني بيا د وخت په تېرېدو له انسان څخه لرې کېږي؛ خو کتاب داسې ملګرى دى چې د ژوند په هر پړاو کې د انسان تر څنګ پاتې کېږي. نه ستړى کېږي، نه د ملګرتيا غوښتنه کوي او نه د انسان له پوښتنو ستړى کېږي؛ هر ځل چې پرانيستل شي، د پوهې نوې دروازه پرانيزي او د فکر لپاره نوى افق رامنځته کوي.

د طالب العلم او زده‌کوونکي لپاره کتاب يوازې د څو پاڼو ټولګه او يا د آزموينې لپاره يوه درسي وسيله نه ده؛ کتاب د هغه د علمي ودې، فکري پوخوالي او شخصيت جوړونې مهم ملګرى دى. د يوه ماشوم په لاس کې کتاب، په حقيقت کې د هغه د راتلونکي په لور يو کوچنى خو مهم ګام دى. هغه طالب العلم او زده‌کوونکى چې له کتاب سره مينه پيدا کوي، له علم سره مينه پيدا کوي؛ او هغه څوک چې له علم سره مينه وکړي، د خپل ځان، خپلې کورنۍ او خپلې ټولنې د روښانه راتلونکي لپاره بنسټ ږدي. مدرس او ښوونکى د علم تر لاسه کولو لارښود دى، مدرسه او ښوونځى د زده‌کړې کور دى او کتاب د علم هغه خزانه ده چې د مدرس او ښوونکي لارښوونې لا پياوړې کوي. که مدرس او ښوونکى د طالب العلم او زده‌کوونکي په ذهن کې د پوهې زړى يا تخم کري، کتاب هغه سرچينه ده چې دغه تخم ته د ودې زمينه برابروي. له همدې امله، د کتاب ارزښت بايد يوازې د درسي ساعتونو او آزموينو پورې کابو پاتې نه شي؛ بلکې بايد د طلاب العلم او زده‌کوونکي د ورځني ژوند يوه مهمه او نه بېليدونکې برخه وګرځي.

د پوهنې وزارت د درسي کتابونو د چاپ، برابرولو او وېش له لارې هڅه کوي چې طلاب العلم او زده‌کوونکو ته د زده‌کړې اړينې آسانتياوې برابرې او د تعليمي بهير د کيفيت د لوړولو لپاره لازم اقدامات تر سره کړي. خو د کتابونو چمتو کول د دې بهير يوازې يو اړخ دى؛ بل اړخ يې د همدغو کتابونو په سمه توګه استفاده، ساتنه او د مطالعې له لارې ترې ګټه اخيستنه ده. که يو کتاب په مينه ولوستل شي، د يوه طالب او زده‌کوونکي د فکر نړۍ بدلولاى شي؛ خو که بې‌پامې ورسره وشي، ممکن هغه علمي فرصت چې د يوه نسل لپاره برابر شوى، له منځه ولاړ شي. له همدې امله، هر طالب العلم او زده‌کوونکى بايد خپل درسي کتاب د يوه ارزښتناک امانت په توګه وساتي. کتاب بايد ونه شلېږي، پاڼې يې بايد له منځه لاړې نه شي او له درسي کال وروسته بايد داسې خوندي وساتل شي چې بل طالب العلم او زده‌کوونکى هم ترې ګټه واخلي. د يوه کتاب ساتنه په ظاهر کې د څو پاڼو ساتنه ښکاري، خو په حقيقت کې د علم، عامه شتمنۍ او د راتلونکي نسل د حق ساتنه ده. په همدې توګه، د مطالعې فرهنګ بايد د مدرسې او ښوونځي له درسي کتابونو څخه هاخوا وغځول شي. طلاب العلم او زده‌کوونکي بايد د خپل عمر، علاقې او اړتيا سره سم د نورو علمي، ادبي، تاريخي او فرهنګي کتابونو له مطالعې سره هم مينه پيدا کړي. مطالعه ذهن روزي، ژبه پياوړې کوي، د بيان ورتيا لوړوي، د فکر ساحه پراخوي او انسان ته دا توان ورکوي چې نړۍ يوازې په خپلو سترګو ونه ګوري، بلکې د نورو د تجربو او افکارو له لارې يې هم وپېژني. په دې برخه کې د مدرسينو، ښوونکو او کورنيو رول هم خورا مهم دى. مدرس اوښوونکى کولاى شي طلاب العلم او زده‌کوونکو ته د مناسبو کتابونو د لوستلو لارښوونه وکړي، د مطالعې لپاره ورته زمينه برابره کړي او د کتاب په اړه د خبرو، بحث او علمي سياليو له لارې د طلابو او زده‌کوونکو مينه اوعلاقه زياته کړي. والدين هم کولاى شي په کور کې د مطالعې لپاره مناسب چاپېريال رامنځته کړي او خپلو اولادونو ته دا احساس ورکړي چې کتاب د درسي مکلفيت تر څنګ د ژوند يو ارزښتناک ملګرى دى. هغه طالب العلم او زده‌کوونکى چې نن د کتاب پاڼې اړوي، سبا به د خپلې ټولنې د برخليک پاڼې اړوي؛ ځکه د راتلونکي افغانستان علمي، فکري او مسلکي ځواک د نن ورځې له کتاب، مدرس، ښوونکي، مدرسې او ښوونځي سره تړاو لري.

کتاب خاموش دى، خو خبرې در زده کوي؛ حرکت نه کوي، خو د پرمختګ لارې درښيي؛ پوښتنه نه کوي، خو د زرګونو پوښتنو ځوابونه در وړاندې کوي. کتاب د انسان لاس نه نيسي، خو د تيارو له منځه يې د رڼا پر لور بيايي. همدا لامل دى چې کتاب د طالب العلم او زده‌کوونکي تر ټولو وفادار ملګرى بلل کېږي. راځئ خپلو ماشومانو او زده‌کوونکو ته يوازې کتاب ورنه کړو، بلکې، له کتاب سره د مينې، مطالعې او ساتنې فرهنګ هم ور زده کړو. راځئ کتاب د ټولګي له مېز څخه د زده‌کوونکي تر کور، له کور څخه د هغه تر فکر او له فکر څخه د هغه تر عمل پورې ورسوو. ځکه د يوه کتاب هره پاڼه د پوهې يوه رڼا ده او د هرې رڼا په زياتېدو سره د يوه نسل راتلونکى لا روښانه کېږي.

کتاب د زده‌کوونکي تر ټولو وفادار ملګرى دى؛ ځکه هر ځل چې يې پرانيزي، هغه د پوهې يوه نوې دروازه ورته پرانيزي.

## وقف زمين از سوی باشنده گان محل برای ساخت يک باب مکتب در ولايت کاپيسا

به‌منظور توسعه ساحه مکتب متوسطه غلام‌حيدر شهيد، در ولسوالی حصه دوم کوهستان ولايت کاپيسا، قطعه زمينی به مساحت ۱۱۰۰ متر مربع از سوی اهالی محل به معارف اهدا گرديد. به گفته مسئولان، از اين ميان، ۳۷۰ متر مربع آن از سوی ملک عبدالمنير، شخصيت معارف دوست، به‌گونه رايگان اهدا شد و ۷۳۰ متر مربع ديگر توسط شورای مردمی مکتب به مبلغ مجموعی ۲۱۹ هزار افغانی خريداری گرديد.

قابل يادآوری است که سنگ تهداب ديوار احاطه اين زمين به‌منظور تأمين ساحه‌ای امن برای مکتب، باحضور محترم الحاج قاری احسان‌الله بريال، والی ولايت کاپيسا، محترم الحاج مولوی سيدمحمد فيضی، رئيس معارف ولايت کاپيسا، جمعی از علمای کرام و اعضای شورای مکتب گذاشته شد.

## په لغمان ولايت کې د يو باب ديني مدرسې د ودانۍ جوړولو چارې پيل شوې

د لغمان ولايت د دولت شاه ولسوالۍ اړوند د ګډيالي په سيمه کې د فيض القران په نوم د يو باب ديني مدرسې ودانۍ جوړولو چارې د ولس په مالي ملاتړ پيل شوې.

د لغمان ولايت د پوهنې رياست مسئولين وايي چې ياده ودانۍ د ولس په مالي ملاتړ د يو نيم مېليون افغانيو په لګښت په شپږ جريبه ځمکه کې جوړېږي چې لس درسي ټولګي، تشنابونه، پخلنځى او يو باب کتابتون به ولري. د پوهنې رياست مسئولين زياتوي چې ديادې مدرسې د ودانۍ جوړولو لپاره شپږ جريبه ځمکه چې ارزښت يې څلورنيم مېليونه افغانيو ته رسيږي هم د يادې سيمې د علم دوسته اوسېدونکو لخوا وقف شوې ده. د مسئولينو په خبره د يادې مدرسې په جوړېدو سره به د سيمې په سلګونو تنو ماشومانو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېريال برابر شي. د دولت شاه ولسوالۍ د پوهنې آمر محترم مولوي عبدالرزاق سيا د سيمې له اوسېدونکو په ځانګړې توګه د قومي مشر ملک ميرزا محمد هڅې په دې برخه کې وستايلې او له نورو پانګوالو يې هم وغوښتل د پوهنيز نظام په پراختيا او ځواکمنتيا کې خپل مادي او معنوي ملاتړ ته دوام ورکړي.

## وقف زمين از سوی باشنده گان محل به رياست معارف ولايت هرات

در راستای تداوم هم‌کاری‌های مردم به نظام تعليمی ملک، باشندگان معارف‌دوست ولسوالی‌های اوبه و ادرسکن ولايت هرات، جمعا حدود چهارونيم جريب زمين را که ارزش آن به ۱ ميليون و ۶۰۰ هزار افغانی می‌رسد به رياست معارف اين ولايت اهدا کردند. محترم مولوی محمد رحمانی، رئيس معارف ولايت هرات گفت: زمين‌های اهدا شده برای ساخت ليسۀ خواجه شمس‌الدين در ولسوالی اوبه و مکتب ابتدائيه شاه بد در ولسوالی ادرسکن اختصاص يافته است.

## د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالى د ځانګړي فرمان په اړه د اسلامي زده کړو معينيت کې غونډه ترسره شوه

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معينيت له لورې د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله تعالى د ځانګړي فرمان په اړه غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې د اسلامي زده کړو معينيت مبلغ او د استعدادونو ارزونې رئيس محترم مفتي مولوي عبدالولي سداد، د اطاعت پر ارزښت، اغېز او اړتيا خبرې وکړې او د اسلامي زده کړو معينيت له ټولو کارکوونکو يې وغوښتل چې د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالى د فرمانونو پوره اطاعت وکړي.

## سنگ تهداب يک باب مکتب به هزينه ۱۰ ميليون افغانی در ولايت غزنی گذاشته شد

سنگ تهداب تعمير جديد برای مکتب حيدرآباد در شهر غزنی به هزينه اوليه ۱۰ ميليون افغانی تهداب گذاری شد که هزينه ساخت آن را محترم جواد رسولی يک تن از شخصيت های خير آن محل پرداخت می کند.

تعمير مذکور که قرار است در دو منزل اعمار شود افزون بر تأسيسات جانبی و ضروری آن دارای ۲۴ صنف درسی و ۲ اتاق اداری خواهد بود که محيط مناسب تعليمی را برای صدها تن شاگرد فراهم خواهد کرد.

رهبری وزارت معارف، بابت حمايت های مردم از نظام تعليمی ملک، ابراز قدردانی می نمايد.

## توزيع مواد ممد درسی به ارزش ۹۵.۱ ميليون افغانی برای مکاتب در ولايت بلخ

به هزينه ۹۵ ميليون و ۱۴۵ هزار افغانی قرطاسيه و مواد ممد درسی که از سوی يک نهاد همکار به رياست معارف ولايت بلخ مساعدت شده بود، برای۲۵۲ هزار شاگرد و ۶ هزار و ۵۴۴ تن معلم مکاتب آن ولايت توزيـع شد.

محترم مفتی محمدشريف عثمانی، رئيس معارف ولايت بلخ ضمن قدردانی از مساعدت نهادها و موسسات همکار با معارف، گفت که به تعداد ۵۴۲ بسته مواد اداری نيز با مکاتب ولايت مذکور مساعدت شده است که نيازهای نهادهای تعليمی را در اين ولايت تا حدی مرفوع ساخته است. وی از ساير هموطنان نيز خواست که برای پيشرفت و تقويت نظام آموزشی به حمايت های مادی و معنوی شان ادامه دهند.

**کابل ښار د ديني مدارسو ممتاز طلاب ...**

زده‌کوونکو پر هڅو او زحمتونو يې خبرې وکړې. نومو‌ړي د زده‌کوونکو کورنيو او استادانو هڅې هم وستايلې او هغوى يې د خپلو اولادونو او زده‌کوونکو د لا زياتې هڅونې لپاره تشويق کړل.

د غونډې په پاى کې د کابل ښار پوهنې رياست مشرتابه له لوري ممتازو زده‌کوونکو ته د هغوى د هڅونې او لا زياتو علمي لاسته‌راوړنو په موخه ارزښتناکې تشويقي ډالۍ ورکړل شوې.

**معرفی روئسای جديد رياست‌های تحقيقات علمی و...**

خدمات مؤثر آنان، برای‌شان در مسئوليت‌های سپرده شده جديد آرزوی موفقيت های بيشتر کرد.

در همين حال روئسای جديد رياست‌های تدارکات و تحقيقات علمی، ضمن قدردانی از اعتماد رهبری وزارت معارف، از کارمندان مربوطه خواستند تا برای تحقق اهداف و انجام مؤثر وظايف سپرده‌شده، کمافی السابق همکاری های صادقانه و همه‌جانبه نمايند.

**د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رياست...**

په صورت کې لازمې لارښوونې ورکړل شي.

د دعوت او ارشاد رياست د يادو فعاليتونو له لارې هڅه کوي چې په تعليمي او اداري چاپېريال کې د ديني او اخلاقي ارزښتونو د پياوړتيا ترڅنګ، د نظم، مسئوليت‌پالنې، سالمې روزنې او غوره کاري فرهنګ د لا پراختيا زمينه برابره کړي.

**اهدای قرطاسيه به شاگردان مستحق يک باب...**

حمايت از شاگردان نيازمند و کمک به معارف را اقدامی نيک و ارزشمند دانسته و از نقش خيرين در فراهم‌سازی امکانات تعليمی برای فرزندان ملک قدردانی نمود.

وی افزود حاجی سيف الدين سعيدی پيش از اين نيز برای ۲۰۰ تن شاگرد اين ليسه يونيفورم تهيه و اهدا نموده بود. آمر تعليم و تربيه همچنان از فعاليت‌ها و تلاش‌های شورای ليسه پسرانه افردی قدردانی نموده و نقش فعال اين شورا را در جلب همکاری خيرين و رسيدگی به نيازمندی‌های شاگردان، مهم و ارزنده خواند. رياست معارف ولايت سرپل ضمن ابراز سپاس و قدردانی از حاجی سيف الدين سعيدی ، از تمامی خيرين، تجار و افراد نيکوکار می‌خواهد تا با ادامه همکاری و حمايت از معارف، در فراهم‌سازی امکانات تعليمی و کمک به شاگردان نيازمند، سهم فعال و ارزنده خويش را ادا نمايند.

**په پکتيکا ولايت کې د يو باب مدرسې...**

سيمې د اوسېدونکو په مالي مرسته د ۶۰۰ زره افغانيو په لګښت پيل شوې. د پکتيکا ولايت د پوهنې رياست مسئولين وايي چې ددې پروژې په پلي کېدو سره به د ياد ښوونځي په سلګونو تنو زده کوونکو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېريال برابر شي.

## لنډخبرونه

### غور

برای ۴۰ تن از معلمان مکاتب شهر فیروزکوه، مرکز ولایت غور، بسته‌های کمک درسی که هر بسته شامل ۲۴ قلم وسایل تدریسی می باشد، توزیع شد.

### ننګرهار

د ننګرهار ولایت خوږیانو ولسوالۍ اړوند سقاؤه لومړني ښوونځي د ترمیم چارې، چې څه موده وړاندې د سیمې د خلکو په مالي ملاتړ پیل شوې وې، د ۵۶ زره او ۵۰۰ افغانیو په لګښت بشپړې شوې. یاد ښوونځی د خوږیانو ولسوالۍ د سیمه‌ییزو مسئولینو په حضور کې د یوې غونډې پرمهال د زده‌کوونکو پر مخ پرانیستل شو.

### لوګر

کار ساخت یک محراب مسجد برای مدرسه دینی مظهرالعلوم در ولسوالی چرخ ولایت لوگر به هزینه ۷۰۰ هزار افغانی از حمایت مالی مردم معارف دوست محل آغاز شد که قرار است در دو طبقه، درمساحت سه بسوه زمین اعمار شود که ظرفیت بیش از ۱۲۰۰ تن نمازگزار را در یک وقت خواهد داشت.

### هرات

د هرات ولایت کشک رباط‌سنګي ولسوالۍ د نجونو او چپل‌قل ښوونځیو نوې ودانۍ د یوې غونډې په ترڅ کې، چې د پوهنې رئیس محترم مولوي محمد رحماني، یو شمېر علماءکرامو، قومي مشرانو او د یادې ولسوالۍ اوسېدونکو په ګډون جوړه شوې وه، افتتاح او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. یادې دواړه ودانۍ د یو همکار بنسټ لخوا د ۱۲۱ زره امریکايي ډالرو په مجموعي لګښت جوړې شوې دي، چې هره یوه یې ۶ درسي ټولګي او یوه اداري خونه لري.

### فاریاب

کارگاه یک روزه ارتقای ظرفیت‌های مسلکی و تشریح لایحه وظایف برای ۱۰۰ تن کارکنان اداری هسته مرکزی و آمریت‌های معارف ولسوالی‌های ولایت فاریاب با حضور مسئولان معارف آن ولایت برگزار شد.

### بامیان

کارگاه سه روزه ارتقای ظرفیت زیر نام « ترویج آموزش و یاد گیری موثر» برای ۹۶ تن معلمان مکاتب ولسوالی سیغان ولایت بامیان به کمک مالی یک نهاد خیریه آغاز شد.

### هلمند

قرار است، ریاست معارف ولایت هلمند، برای ۷۷,۴۲۰ تن شاگردان صنوف اول تا ششم مکاتب مرکز و ولسوالی‌های این ولایت، به تعداد ۳,۸۷۱ بسته قرطاسیه و مواد ممد درسی را که از سوی یک نهاد همکار با معارف مساعدت شده است، توزیع نماید.

### کنر

از سوی یک نهادهای همکار با ریاست معارف ولایت کنر در بخش قرطاسیهٔ شاگردان، بسته‌های آموزشی معلمان و بسته‌های اداری مکاتب کمک صورت گرفته است. این کمک‌ها شامل ۳۳۱۷ بسته مواد ممد درسی برای معلمان، ۴۴۰ بسته مواد اداری، ۸۸۰ کارتن مواد شوینده می‌باشد که مطابق پلان ترتیب‌شده، برای شاگردان صنف‌های اول تا ششم مکاتب در آن ولایت توزیع خواهد شد.

# د دعوت تاریخ او موخې

نحمده ونصلي على رسوله الكريم
اما بعد
بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ [ الذاريات: ۵۶] ښکاره ده چې دالله جل جلاله حکمت دټولو موجوداتو او خاص طور دمکلف ذی روح په پیدایښت کې د همدغه مقدس ذات پېژندنه، عبادت کول دي او بس کله چې انسان موجود او دنیا ته راغی ورسره سم دلوی خدای جل جلاله له لوري ورته حقه او باطله لاره وښودل شوه. دوخت په تېرېدو سره چې کله دځمکې په مخ انسانان تیت او شمېر یې زیات شو شیطان هم دخپل کلک هوډ سره سم غوښتل چې خپل لارویان زیات کړي ګڼ شمېر ازلي بدبخت یې د ځان تابع جوړ کړل چې بالاخره دځمکې په اکثرو برخو کې دکفر او شرک نغارې ږغول کېدې کله چې به ظلم او وحشت زور واخیست د مهربان خدای جل جلاله له لوري به ورته دوخت پیغمبر را واستول شو، د دعوت لړۍ به پیل شوه چې له حقې لارې نه یاغي انسانان بېرته مستقیمې لارې ته سوق شي خو بالمقابل به د وخت جابر او ظالم قوم د همدې معصومو رسولانو په وړاندې د لازیات بغاوت هڅې پیل کړې ان تردې چې کله جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم په رسالت مبعوث کېږي دکفر او شرک لښکرې ښه مخ په وړاندې وې ظلم او وحشت اخیري اوج ته رسېدلی وو.

د عامو انسانانو او خاص طور د پلار او لونو تر منځ عاطفي شتون نه درلود، د ځمکې او آسمانونو اوسېدونکي دیو روښانه نوښت په انتظار وو، هغه وو چې دتوانا خدای جل جلاله د ځانګړي رحمت اوشفقت له مخې دحجاز په غرونو ځلانده لمر راوخوت زرینې وړانګې یې رو رو د ټولې ځمکې په مخ خورې شوې، دظلم او وحشت تور تغر ټول د خوښیو او الفت فضا رامنځته شوه هو، دا هم هغه سپېڅلی او مقدس نبي ده چې کله یې د لوی خدای جل جلاله په امر دمکې په زړه کې د سرکښه مشرکینو په وړاندې مبارک قدم کېښود او د ( وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ﴿۲۱۴﴾)[سوره الشعراء] مبارک آیت په رڼا کې یې نېږدې خپلوانو او دمکې عامو اوسېدونکو او شاوخوا خلکو ته د توحید بلنه ورکړه، خو متأسفانه چې دګران رسول الله صلی الله علیه وسلم همدا له مهربانۍ ډک پیغام دمشرکینو لخوا په خورا توند غبرګون سره ځواب شو، البته مخلصو مؤمنانو ورته لبیک وویل دمکې بدمعاشو سردارانو په دې هم بسنه ونه کړه دخوږ نبي کریم صلی الله علیه وسلم او دده دملګرو یې په زباني او جسماني تعذیب پیل وکړ چې بالاخره هجرت کولو ته اړ ایستل شو خو زموږ مهربان نبي کریم صلی الله علیه وسلم او ملګرو یې د مشرکینو لخوا د هر قسم تکالیفو د زغملو ترځنګ خپله مقدسه تګلاره دعوت بیا هم روان وساته دا ځکه چې د لوی خدای جل جلاله دین ته خلک رابلل یو اړین عمل ده، نو په همدې اساس تاریخ ته په کتو سره جوته ده چې دعوت هم هغه سپېڅلې دنده ده چې د ټولو پیغمبرانو یو افتخاري میراث دی، نو لهذا د هر مؤمن او خاص طور دعالم دین لپاره لازمه ده چې دلوی خدای جل جلاله د دین احکام ترخلکو پورې ورسوي اوپه دې مقدس یون کې به دملامتونکي د ملامتیا پروا نه لري.

**د اسلامي امارت په شتون کې دامربالمعروف نهی عن المنکر اهمیت او ګټې:**

شاوخوا دوه لسیزې وړاندې دنړۍ کفري یرغلګرو په یوه اوبله بهانه زموږ په ګران ملک افغانستان ظالمانه حمله وکړه دوخت شرعي نظام یې ړنګ او په بې رحمانه توګه یې زیات شمېر مسلمانان د تروریست په نوم په شهادت ورسول، مدرسې او جوماتونه بمبار شول، دبګرام او ګوانتانامو زندانونه یې دطالب په نوم په مؤمنو افغانانو ډک کړل دخلکو ترمنځ یې کرکه او نفرت خور کړ ډېر ځوک یې په اخلاقي فساد ککړ او روږدي کړل، پوره هڅه یې وه چې غربي عنعنات او کلتور په خپل ساحرانه او شیطاني انداز په افغاني ټولنه کې ترویج کړي، متاسفانه چې مادیاتو ته ژمن اوله پردي کلتوره متاثره ځېرو ورته لبیک وویل چې اوس یې هم اثرات لیدل کېږي د خپلو نیکونو او پلرونو سیرت او صورت ورته عار ښکاري.

خو بالمقابل دین ته مخلص او وفادار مجاهدینو دهمدې پلیتو په وړاندې د مقدس جهاد په تکل ملاوې وتړلې، هر راز قربانیو ته تیار وو ستړیا، زخمونه، بندیخانې یې په ځان ومنل ډېرو مجاهدینو خپلې ګل غوندې ځوانۍ د اور خوراک کړې لوی خدای جل جلاله یې نصرت وکړ په نظامي ډګر کې یې مکار اوجابر دوښمن ته شرمونکې ماته ورکړه خو، البته فکري جګړه لا تراوسه ګرمه او روانه ده، هغه زهرجن او منحوس تخم یې زموږ په افغاني ټولنه کې هم هغسې شیندلی پاتې ده، همدې ته په کتو سره د اسلامي امارت دمشرتابه لخوا ورته دامر بالمعروف په نوم یو مستقل او باصلاحیته وزارت رامنځ ته شو چې دکفري نړۍ همدا پلیته هڅه ناکامه اوله خاورو سره سم کړي نو بناءً لازمه ده چې دهمدې مقدس یون په موخه لکه په نظامي ډګر کې په پوره اخلاص اومېړانې سره یو لاس او نه ستړې کېدونکې هڅې وکړو چې په دې سره به یولړ لاس ته راوړنې ولرو.

**لومړی:** څرنګه چې دمسلمه اُمت او په خاص ډول د وخت واکمنو ته د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم لخوا په اسلامي نظام کې دحکومت دارۍ او د ژوند تېرولو لپاره یوه سپېڅلې لائحه رالېږل شوې ده چې هرڅه پکې ښکاره اوروښانه دي. چې یو له هغوی څخه ( من راي منكم منكرا فاليغيره بيده فإن لم يستطع فبلسانه وان لم يستطع فبقلبه وذالك أضعف الإيمان) دا حدیث شریف ددې سپېڅلي فرمان په اداینې سره به مو غاړه خلاصه او خپل ولس ته به مو خدمت کړی وي.

**دوهم:** څرنګه چې دنظام بقا اخلاص او د زړه صمیمیت غواړي نو په همدې اساس ولسونو ته دلوی خدای جل جلاله د دین احکام رسول، اصول ورته ښودل، سمې لارې ته یې رهبري کول موجوده نظام ته دمبلغ ژمنتیا او ریښتنیولي ښيي چې دا دنظام یوله اړینو مادو څخه ده.

**دریم:** دا چې دقرآني هدایت له مخې دامیر او مامور ترمنځ د اطاعت په نوم یوه سپېڅلې کلمه وجود لري چې په کولو سره یې ټینګ اعتماد د کار سمون اوپیاوړتیا، دنظام پر مختګ اونظم، منځ ته راځي او په نه کولو سره یې بې باوري او فاصله پیدا کېږي او متخلف یې دګناه مرتکب ګرځي چې دا یو نه جبرانېدونکی آزار ده. ښکاره ده چې په همدې اړوند داسلامي امارت د مشرتابه لخوا په مکرر ډول فرامین دیاد وزارت او د دعوت ارشاد دمسئولینو او په مجموع کې د اسلامي امارت د ټولو لوړ رتبه او ټیټ رتبه مؤظفینو په وړاندې دي، نو لهذا راځئ چې له موقع نه په استفادې سره دا ستر ویاړ وګټو چې دجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم یتیم اُمت ته په ورین تندي دلوی خدای جل جلاله د دین احکام په پوره ډول سره ورسوو او ځان ستړی ونه بولو. هو ریښتیا که بالفرض د موجوده اسلامي نظام او د علمأوو په رهبرۍ کې بیا هم ډېر ځوک داسې ولرو چې دایمان دفرایضو، شرایطو، مفسداتو او د اسلام له نورو احکامو څخه خبر نه وي آیا دا به له ځان او ټولنې سره دظلم په معنا نه وي؟ خو لله الحمد کار ته په کتو سره دملګرو مخلصانه هڅې دستایلو وړ دي چې همدا سپېڅلی بهیر ښه مخ په وړاندې ده نور هم ورته د لا بریا په هیله

**ادریس، سروري، دپوهنې وزارت ددعوت ارشاد ریاست خادم**

# ندایی که حضرت تمیم داری رضی‌الله تعالی عنه را به اسلام فراخواند

بعضی اوقات یک حادثه در زندگی انسان مسیر آینده او را برای همیشه تغییر می‌دهد. داستان ایمان آوردن حضرت تمیم داری رضی‌الله تعالی عنه نیز از همین ماجرا های عجیب و شگفت‌انگیز است؛ ندایی در دل شب، او را از حقیقتی بزرگ آگاه ساخت و سرانجام این جستجو، به دیدار رسول‌الله ﷺ و پذیرفتن اسلام او انجامید.

به دعوتِ جنیات حضرت تمیم داری رضی‌الله تعالی‌عنه ایمان می آورد.

حضرت تمیم داری رضی‌الله تعالی عنه صحابی جلیل القدر پیامبر اکرم صلی‌الله علیه و آله وسلم می‌فرمایند: هنگامی که رسول‌الله ﷺ به پیغمبری مبعوث شدند، من در سرزمین شام بودم. برای انجام کاری از خانه بیرون شدم. شب فرا رسید، بنابراین گفتم امشب در پناه بزرگِ این وادی قرار می گیرم. وقتی در جای خوابم قرار گرفتم، صدایی شنیدم، در حالی که گوینده را نمی‌دیدم. او می گفت: به خداوند جل جلاله پناه ببر، زیرا جن نمی‌تواند کسی را پناه دهد بلکه باید به خداوند جل جلاله پناه برد. گفتم: تو را به خدا سوگند می‌دهم، چه می گویی؟ گفت پیامبر اُمّی مبعوث شده است؛ محمد ﷺ رسول خداوند جل جلاله است. ما همراه او نماز خوانده‌ایم، اسلام آورده و از او پیروی کرده‌ایم. نیرنگ و قدرت جن‌ها از میان رفته و آنان با شهاب‌ها(ستاره ها)آتش زده می‌شوند. پس تو نیز به سوی محمد ﷺ فرستادهٔ پروردگار جهانیان، حرکت کن و اسلام بیاور. حضرت تمیم داری رضی‌الله تعالی عنه می‌فرمایند: صبح که شد، نزد راهبی رفتم و آنچه را شب گذشته شنیده بودم برای او بیان کردم. راهب گفت آنچه به تو گفته‌اند، راست گفته‌اند. او از حرم ظهور خواهد کرد و محل هجرتش نیز از حرم خواهد بود. او از بهترین پیامبران است مبادا کسی از تو در رسیدن نزد او پیشی بگیرد حضرت تمیم داری رضی‌الله تعالی عنه می گوید: پس با شتاب حرکت کردم تا به خدمت رسول‌الله ﷺ رسیدم و اسلام آوردم.

نتیجه:

این داستان نشان می‌دهد که راه‌های هدایت الهی گاهی از جایی می‌رسند که انسان هرگز گمانش را نمی‌کند. ماجرای حضرت تمیم داری رضی‌الله تعالی عنه نیز نمونه‌ای از این حقیقت است که وقتی نور حق آشکار شود، دل‌های جویای حقیقت در برابر آن تسلیم می‌شوند.

---

مأخذ: حیات‌الصحابه، جلد سوم، صفحهٔ ۶۴۹

ترتیب کننده: ضیاء الدین کریمی

# Marif
Weekly

**کتنپلاوی:** شیخ محمد طاؤس «طارق»، مولوي عزيز احمد «ريان»، مولوي حبيب الله «مؤذن»، احمد شعيب «حقيقي»، عبدالصبور «غفراني»، محمد نسيم «عياذ»

**مسئول مدير:** سعيد «جلال»

**انځور اخيستونکی:** محمد ادريس «نوري»

**صفحه آرا :** محمد قسيم «يعقوبي»

**شمېر :** ۳۰۰۰

**پته:** کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړيکو رياست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمريت

**د پوهنې کاروان مينه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې ليکنې، وړانديزونه او نيوکې په لاندې بريښنا ليک او ټيليفون شمېرې له موږ سره شريکې کړئ.

Marifnewspaper1919@gmail.com

**د اړيکې شمېره:** ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 332 /2026


# معرفی روئسای ریاست های جدید التأسیس در چوکات معینیت تعلیمات اسلامی وزارت معارف

جلسه معرفی روئسای دو ریاست جدیدالتأسیس «ریاست مدارس» و «ریاست دارالحفاظها» که در چوکات ریاست عمومی مدارس و دارالحفاظهای معینیت تعلیمات اسلامی وزارت معارف ایجاد شده‌اند، برگزار شد.

در این جلسه محترم الحاج مولوی کرامت‌الله آخندزاده، معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف، گفت؛ هدف اساسی از ایجاد این دو ریاست، با توجه به گسترش و افزایش امور مربوط به مدارس و دارالحفاظها، تنظیم بهتر روند کاری، مدیریت مؤثر امور و ارائه خدمات بهتر به مردم می‌باشد. وی همچنان از رئیسان جدید خواست تا وظایف خویش را با اخلاص، صداقت، تعهد و با روحیه خدمت واقعی انجام دهند.

در ادامه، محترم مفتی محمد یوسف ثاقب رئیس عمومی مدارس و دارالحفاظها، از رهبری وزارت معارف به‌خاطر توجه و حمایت آن‌ها در قبال فرزندان ملک قدردانی کرده و گفت که باید از سهولت‌ها و امکانات ایجادشده از سوی وزارت معارف به‌گونه درست استفاده شود و در تمام امور رضایت الهی و اصل خدمت به مردم در نظر گرفته شود.

وی در مورد سنگینی بار مسئولیت نیز صحبت کرده و به کارمندان معینیت تعلیمات اسلامی توصیه کرد که با مراجعین برخورد نیک و رفتار شایسته داشته باشند.

او تأکید کرد که بیشتر مراجعین بخش تعلیمات اسلامی را علمای کرام و حافظان قرآن کریم تشکیل می‌دهند، بنابراین باید با آنان با احترام نرمی و اخلاق نیک رفتار شود.

قابل یادآوری است که بر اساس حکم مقام عالی ریاست الوزراء، محترم مفتی هدایت‌الله متقی به عنوان رئیس مدارس و محترم مولوی شفیع‌الله حقانی به‌عنوان رئیس دارالحفاظها معرفی و رسماً به وظایف جدید خویش آغاز به کار کردند.



## په میدان وردګو کې د قرآن کریم د ناظرې او فهم زده کړه په آسانه مېتودونو سره تر سرلیک لاندې سیمینار ترسره شو

د میدان وردګ ولایت مرکز د میدان ښار اړوند ښوونځیو او دیني مدارسو د قرآن کریم ښوونکو لپاره د یوه همکار بنسټ په مرسته علمی او روزنیز سیمینار د قران کریم د لسګونو تنو ښوونکو په ګډون تر سره شو چې موخه یې د قرآن کریم د تدریس د نویو او اغېزمنو مېتودونو پېژندل، د ښوونکو مسلکي وړتیاوو لوړول او د زده‌کوونکو لپاره د قرآن کریم د ناظرې او فهم بهیر لا آسانه او اغېزمن زده کول وو.

د میدان وردګو ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي عبدالحق حقاني د همکار بنسټ له مسئولینو څخه د یاد علمي پروګرام د تنظیم له امله مننه وکړه او ویې ویل: د قرآن کریم د تدریس د کیفیت لوړول د اسلامي او تعلیمي نظام له مهمو اړتیاوو څخه دي.

نوموړي له ګډونوالو ښوونکو وغوښتل چې د سیمینار په ترڅ کې وړاندې کېدونکي علمي او عملي مېتودونه په پوره دقت زده کړي او وروسته یې په خپلو ښوونځیو او دیني مدارسو کې د قرآن کریم د تدریس پر مهال په مؤثره توګه عملي کړي، ترڅو زده‌کوونکي وکولای شي د قرآن کریم ناظره او فهم په آسانه، معیاري او اغېزمنه توګه زده کړي.

په دې پنځه ورځني سمینار کې د قرآن کریم د تدریس نوې لارې چارې، عملي تمرینونه او معیاري تدریسي مېتودونه ګډونوالو ته وړاندې شول تر څو د دیني او تعلیمي بنسټونو د تدریسي بهیر په پیاوړتیا کې یې پلی کړي.

## په پکتیکا ولایت کې د یو باب مدرسې لپاره د درسي ټولګیو د جوړولو او یو باب ښوونځي د بیارغونې چارې پیل شوې

د پکتیکا ولایت د شخیل آباد ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند، لوی او کوچني فیرکم سیمې د مفتاح العلوم دیني خصوصي مدرسې لپاره د سیمې د اوسېدونکو له لوري د څلویښت زره افغانیو په مالي لګښت د دریو درسي ټولګیو د جوړولو چارې پیل شوې.

د پکتیکا د پوهنې رئیس محترم مولوي عبدالوکیل خالد وویل، دا کار د خلکو د علم او زده‌کړې سره ژورې مینې څرګندونه کوي. نوموړي زیاته کړه چې د دې ټولګیو په جوړېدو سره به د طلابو لپاره د مناسب تعلیمي چاپېریال زمینه برابره شي، او د دیني زده‌کړو د لا پراختیا کې به رغنده ونډه ولري. همداراز د شخیل آباد ولسوالۍ د پوهنې آمر محترم مولوي سلیمان وفادار وویل چې اوس مهال د مفتاح العلوم په دیني خصوصي مدرسه کې شاوخوا ۱۵۰ تنه طلاب په زده‌کړو بوخت دي. نوموړي زیاته کړه چې یادې مدرسې تر دې وړاندې خپل ځانګړی تعمیر نه درلود او طلابو به په خیمو کې زده‌کړې ترسره کولې چې تر بیارغونې وروسته به د طلابو ستونزه هوارې شي.

همدارنګه د پکتیکا ولایت د بکخېل ولسوالۍ اړوند حضرت بلال رضی‌الله‌عنه منځني ښوونځي د شپږو پخوانیو درسي خونو د ترمیم او دریو نویو درسي خونو جوړولو چارې د...

۲مخ



## ساخت یک باب مکتب به همکاری باشندگان محل در ولایت پکتیا

ساختمان جدید متوسطه "محمودکلا " در شهر گردیز مرکز ولایت پکتیا، با هزینه ۱.۱ میلیون افغانی اعمار و به بهره‌برداری سپرده شد که مصارف ساخت آن را مردم محل پرداخت کرده اند.

این مکتب دارای شش صنف درسی، یک اتاق اداری، تحویلخانه و سیستم آب نوشیدنی می‌باشد.

در مراسم افتتاح تعمیر جدید این مکتب محترم مولوی عبدالقیوم فاروقی، رئیس معارف ولایت پکتیا از همکاری باشنده گان محل از بابت اعمار مکتب مذکور قدردانی کرده، گفت: فراهم‌سازی محیط تعلیمی مناسب، نقش مهمی در ارائه آموزش‌های معیاری دارد.

وی افزود که باشنده گان ولایت پکتیا در جریان سال ۱۴۰۵هـ ش ، مجموعا به ارزش ۱۷ میلیون افغانی در بخش های مختلف معارف کمک کرده‌اند.

## اهدای قرطاسیه به شاگردان مستحق یک باب مکتب از سوی یک تن باشنده ولایت سرپل

یک تن از باشنده گان ولایت سرپل به نام حاجی سیف الدین سعیدی که از باشندگان منطقه افردی این ولایت می‌باشد، به تعداد ۵۴۰۰ جلد کتابچه و ۱۸۰۰ عدد قلم را به شاگردان مستحق دوره ابتداییه لیسه پسرانه افردی از مربوطات مرکز ولایت سرپل اهدا و توزیع نمود.



این کمک به‌منظور حمایت از شاگردان نیازمند، تشویق آنان به فراگیری علم و دانش و فراهم‌سازی زمینه بهتر آموزش صورت گرفته است. بر بنیاد این کمک، برای هر شاگرد مستحق ۶ جلد کتابچه و ۲ دانه قلم در نظر گرفته شده است.

به همین منظور، مراسم توزیع این قرطاسیه با حضور محترم الحاج مولوی هدایت‌الرحمن صداقت آمر تعلیم و تربیه، محترم الحاج شیخ عبدالهادی غفوری آمر دعوت و ارشاد و محترم الحاج ملا نقیب‌الله ندیم آمر معارف شهری، در لیسه پسرانه افردی برگزار گردید. محترم مولوی هدایت‌الرحمن صداقت آمر تعلیم و تربیه در سخنان شان...

ص۲

**ګرانو هېوادوالو! راځئ چې له مدرس او ښوونکي سره د خپلو بچیانو د ښوونې او روزنې دروند مسئولیت په ګډه ادا کړو.**